د عامې روغتیا وزارت

# روغتیا اوونیزه

## پرلیــکه خپـرونه

**لومړی پړاو - درې پنځوسمه ګڼه**

**۱۴۴۸-۴-۱۱**

- ✔ د عامې روغتیا وزارت د درملو د داخلي تولید د فابریکو له مسؤلینو سره لیدنه
- ✔ د تخار په ولایتي روغتون کې د جدي پاملرنې ۱۰ بستریزه ځانګه پرانیستل شوه
- ✔ د عامې روغتیا وزارت له لوري له خارج مرز ډاکترانو څخه د سویې ازموینه واخیستل شوه
- ✔ په بلخ کې د ٦٥ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۳۰ بستریز روغتون بنسټ ډبره کېښودل شوه
- ✔ د وینې ملي بانک له لوري په کاردان پوهنتون کې د رضاکارانه وینې راټولولو کمپاین ترسره شو




## د عامې روغتيا وزارت د وينې ملي بانک له لوري په کاردان پوهنتون کې د رضاکارانه وينې راټولولو کمپاين ترسره شو

د وينې ملي بانک د خپل کاري ټيم په مرسته په دې کمپاين کې د کاردان خصوصي پوهنتون له استادانو او زده کړيالانو څخه 42 زره او 500 سي سي رضاکارانه وينه راټوله او د وينې مرکزي بانک ته انتقال کړه. په ياد کمپاين کې د کاردان پوهنتون 85 تنو خپله وينه اهدا کړه، چې له ضروري معايناتو وروسته به ناروغانو ته توزيع شي.
د وينې مرکزي بانک هڅه کوي، چې د وينې کمپاينونو او عامه پوهاوي له لارې هېوادوال وهڅوي، چې خپله وينه اهدا کړي؛ ترڅو وينې ته د اړمنو ناروغانو ستونزې حل شي.



## د خيرخانې 102 بستريز روغتون د 45 روغتيايي کارکوونکو لپاره د انتاناتو کنټرول روزنه ترسره شوه

د عامې روغتيا وزارت د ظرفيت لوړونې رياست له لوري د خيرخانې 102 بستريز روغتون د 45 تنو روغتيايي کارکوونکو د مسلکي وړتياوو او مهارتونو لوړولو په موخه د انتاناتو کنټرول او مخنيوي روزنيز پروګرام ترسره شو

## برای 45 تن از کارمندان شفاخانه 102 بستر خیرخانه برنامه آموزشی کنترول عفونت برگزار شد

برای 45 تن از (IPC) یک برنامه آموزشی تحت عنوان «کنترول و جلوگیری از عفونت‌ها پرسونل مسلکی شفاخانه 102 بستر خیرخانه، به‌منظور ارتقای ظرفیت و مهارت‌های مسلکی کارکنان صحی، از سوی ریاست ارتقای ظرفیت وزارت صحت عامه برگزار گردید

## په هلمند کې د ټوليز معافيت او پوليو واکسين د پیاوړتيا لپاره د 1.52 ميليونه ډالرو هوکړه‌ليک لاسليک شو

د عامې روغتيا وزارت له لوري په هلمند ولايت کې د ټوليز معافيت خدمتونو او د پوليو د خوراکي واکسين (OPV) د پیاوړتيا په موخه له Organization for Community Coordination and Development-OCCD مؤسسې سره د (1520000) د يو ميليون او پنځه سوه شل زره ډالرو په ارزښت هوکړه ليک لاسليک شو



## امضای تفاهم‌نامه 1.52 میلیون دالری برای تقویت خدمات معافیت کُل و واکسین پولیو در هلمند

در (OPV) وزارت صحت عامه به‌منظور تقویت خدمات معافیت کُل و واکسین خوراکی پولیو ولایت هلمند، با مؤسسه Organization for Community Coordination and Development به ارزش یک میلیون و 520 هزار دالر امریکایی تفاهم‌نامه امضا کرد (OCCD)

## MoPH Signs $1.52 Million MoU with OCCD to Strengthen Immunization Services in Helmand

The Ministry of Public Health signed a one-year Memorandum of Understanding (MoU), valued at USD 1.52 million, with the Organization for Community Coordination and Development (OCCD) to strengthen routine immunization services and oral polio vaccination (OPV) activities in Helmand Province.




## د ننګرهار سیمه ییز تخصصي روغتون ته د 3 میلیونه افغانیو په ارزښت طبي تجهیزات وسپارل شول

د ننګرهار سیمه ییز تخصصي روغتون لپاره د یونیسف اداري په مالي همکارۍ د 3 میلیونه افغانیو په ارزښت طبي تجهیزات، د عملیات خونې وسایل، لابراتواري وسایل او د وینې بانک اړوند تجهیزات پېرل شوي او د دغه روغتون عمومي زېرمتون ته وسپارل شول
په دغو تجهیزاتو کې د عملیات خونې څراغونه، د جراحۍ سېټونه، یو شمېر نور مهم طبي وسایل او د انتان د مخنیوي اړوند مواد شامل دي

## یک برنامه آگاهی‌دهی و وقایه از اعتیاد در لیسه عالی عبدالهادی داوی با اشتراک بیش از 1700 تن از شاگردان برگزار گردید



این برنامه از سوی مسوولان برنامه آگاهی‌دهی و وقایه از اعتیاد شفاخانه ملی تداوی 1000 بستر مواد مخدر ابن‌سینا ـ کابل، وزارت صحت‌عامه برگزار شد که در آن در مورد اهمیت آگاهی و نقش جوانان در ساختن آینده سالم، اهمیت وقایه از اعتیاد، عوامل گرایش جوانان به اعتیاد، اهمیت «نه گفتن»، نقش خانواده و دوستان، راه‌های مقابله با خطرات از دیدگاه اجتماعی و تأثیرات منفی اعتیاد بر جامعه برای اشتراک‌کننده‌گان توضیحات ارائه گردید

از سوی‌هم، مسوولان و استادان این لیسه از راه‌اندازی چنین برنامه‌ها ابراز قدردانی نموده و آن را در جلوگیری از گرایش جوانان به مواد مخدر مؤثر دانستند

## د کندز ولایت په دشت ارچي ولسوالۍ کې د 430 زره ډالرو په لګښت یو NCHC روغتون جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو



یاد روغتون چې په پرمختللو تجهیزاتو او وسایلو سمبال دی، د 18 میاشتو په موده کې جوړ او د کندز عامې روغتیا رئیس ډاکټر محمدالله حکمت، ولایتي او سیمه ییزو مسؤلینو، د سیمې مشرانو او اوسېدونکو په شتون کې ګټې اخیستنې ته وسپارل شو

د کندز عامې روغتیا رئیس د یاد روغتون په فعالیت خوښي څرګنده او د جوړولو او تجهیزولو برخه کې د UNCHR دفتر له مالي ملاتړ او همکارۍ څخه مننه وکړه

## یک شفاخانه NCHC به هزینه 430 هزار دالر امریکایی در ولسوالی دشت ارچی ولایت کندز ساخته و به بهره‌برداری سپرده شد



این شفاخانه که با تجهیزات و وسایل پیشرفته مجهز می‌باشد، در مدت 18 ماه ساخته شده و با حضور داکتر محمدالله حکمت، رئیس صحت عامه کندز، مسوولان ولایتی و محلی، بزرگان و باشنده‌گان محل به بهره‌برداری سپرده شد

رئیس صحت عامه کندز از آغاز فعالیت این شفاخانه ابراز خرسندی نموده و از دفتر UNCHR به خاطر حمایت مالی و همکاری در بخش ساخت و تجهیز این شفاخانه قدردانی کرد

## د اعلان شویو روغتیایي بستونو د ازموینې بهیر په اړه آنلاین ناسته ترسره شوه



د عامې روغتیا وزارت د مالي او اداري چارو مرستیال، ښاغلي قاري عبدالولي صدیقي د هېواد د مرکزي، شمال، شمال ختیځ، ختیځ، سوېل ختیځ، لوېدیځ او سوېل لوېدیځ زونونو له روغتیایي مسؤلینو سره د اړوندو ولایتونو د اعلان شویو بستونو د ازموینې اخیستلو بهیر په اړه آنلاین ناسته ترسره کړه

په دې ناسته کې د عامې روغتیا وزارت د مالي او اداري چارو مرستیال د یادو بستونو لپاره د ازموینې پر شفاف ترسراوي ټینگار وکړ او له مسؤلینو څخه یې وغوښتل، چې د ازموینې په بهیر کې عدالت او شفافیت ته جدي پاملرنه وکړي او د داسې ازموینې زمینه برابره کړي، چې حق حقدار ته ورسېږي. همدارنگه، نوموړي د ولسوالیو په کچه د عمومي روغتونونو جوړولو پروژې پر جدي څارنه ټینگار وکړ او له مسؤلینو څخه یې وغوښتل، چې د یادو پروژو د کار کیفیت او پرمختگ په منظم ډول وڅاري

## تیم مبارزه با مواد مخدر شفاخانه 450 بستر ترک اعتیاد جنگلک، برای محصلین پوهنتون بایزید روشان جلسه آگاهی‌دهی برگزار نمود



هدف اساسی این جلسه، بلندبردن سطح آگاهی محصلین بود تا آنان از خطرات و پیامدهای ناگوار مواد مخدر آگاه شوند و برای جلوگیری از گسترش این پدیدهٔ زیان‌بار، راه‌های مؤثر را جستجو کنند

در این جلسه، ، داکتر عبدالقادر دانشمل مسئول شفاخانه 450 بستر جنگلک، در مورد تأثیرات منفی و مخرب مواد مخدر معلومات ارائه کرده و بلندبردن سطح آگاهی جوانان را در ترویج زنده گی سالم مهم دانست. وی تأکید کرد که اعتیاد تنها یک مشکل فردی نیست، بلکه یک مشکل جدی اجتماعی و صحی است که خانواده‌ها و جامعه را متأثر می‌سازد

## Mawlawi Hamdullah Zahid, Deputy Minister for Food and Drugs of the Ministry of Public Health, held a meeting with representatives of several pharmaceutical manufacturing companies.



Discussions focused on improving product quality, strengthening coordination between the Afghanistan Food and Drug Authority (AFDA) and pharmaceutical manufacturers, ensuring the production and supply of quality-assured products, complying with technical and legal requirements, and displaying the final retail price on product packaging. The manufacturers were also provided with the necessary technical guidance.

The factory representatives also shared their concerns and recommendations. The Deputy Minister emphasized the importance of continued coordination, support for domestic pharmaceutical production, and addressing manufacturers' concerns in accordance with applicable laws and regulations.



## د احمد خان صافي عالي لیسې څه باندې 1100 تنه زده کوونکو ته د نشه یي توکو مخنیوي او عامه پوهاوي پروګرام ترسره شو

یاد پروګرام د عامې روغتیا وزارت اړوند د ابن سینا 1000 بستریز روغتون د نشه یي توکو د درملنې او پوهاوي مسؤلینو له لوري تنظیم شوی و، چې د پوهاوي پر اهمیت، د سالم راتلونکي په جوړولو کې د ځوانانو پر رول، د روږدیتوب د مخنیوي پر ارزښت، د روږدیتوب لاملونو، د نشه یي توکو مخنیوي برخه کې د کورنیو او ملګرو رول، د ټولنیز لید له مخې د خطرونو پر وړاندې د مبارزې لارو چارو او پر ټولنې باندې د روږدیتوب د منفي او ناوړه اغېزو په اړه ګډونوالو ته معلومات وړاندې شول

## یک برنامه آگاهی‌دهی و وقایه از اعتیاد در لیسه عالی احمد خان صافی با اشتراک بیش از 1100 تن از شاگردان برگزار گردید

این برنامه از سوی مسوولان برنامه آگاهی‌دهی و وقایه از اعتیاد شفاخانه ملی تداوی 1000 بستر مواد مخدر ابن‌سینا ـ کابل، وزارت صحت‌عامه برگزار شد که در آن در مورد اهمیت آگاهی و نقش جوانان در ساختن آینده سالم، اهمیت وقایه از اعتیاد، عوامل گرایش جوانان به اعتیاد، اهمیت «نه گفتن»، نقش خانواده و دوستان، راه‌های مقابله با خطرات از دیدگاه اجتماعی و تأثیرات منفی اعتیاد بر جامعه برای اشتراک‌کننده‌گان توضیحات ارائه گردید

## غور ولایت کې 11 روغتیایي مرکزونو ته د واکسین ساتلو لمریز یخچالونه ورکړل شول




د عامې روغتیا وزارت د کتلوي معافیت ریاست له لوري د واکسینونو د سوړ زنځیر پیاوړتیا او پراختیا په موخه غور ولایت ته 11 لمریز یخچالونه ولېږدول شول او د دغه ولایت د کتلوي معافیت مدیریت ته وسپارل شول

یاد یخچالونه د اړتیا له مخې 11 روغتیایي مرکزونو ته ولېږدول شول او د غور د عامې روغتیا ریاست د سوړ زنځیر ټیم له لوري نصب او فعال شول
د یادونې وړ ده، چې د نصب شویو تجهیزاتو ټولیز ارزښت (5084934) افغانۍ دی

## Foundation Stone Laid for a 30-Bed Hospital in Kuh e Alborz District of Balkh Province at a Cost of Nearly AFN 65 Million



Dr. Abdul Sattar Sehat, Director of Planning and Programming of the Ministry of Public Health, said at the foundation stone-laying ceremony that the establishment of the hospital will improve access to healthcare services for residents of Kuh e Alborz District.

The ceremony was attended by Emirate officials, local residents, religious scholars, tribal elders, and a number of local officials. The hospital will be constructed on five jeribs of land and will comprise the necessary medical departments and other essential facilities. Construction is scheduled to be completed within 18 months, after which the hospital will be put into operation.




## فراه ولایت کې 50 ټنه له نېټې تېر او بې کیفیته درمل او خوراکي توکي له منځه یووړل شول

د فراه ولایت عامې روغتیا ریاست د څارنې او پلټنې مسؤلینو 30 ټنه له نېټې تېر او بې کیفیته درمل او 20 ټنه له نېټې تېر او بې کیفیته خوراکي توکي، چې د دغه ولایت په مرکز او ولسوالیو کې له خصوصي روغتیایي سکتور او خوراکي توکو له پلورنځیو څخه د شپږو میاشتو په موده کې د ترسره شویو نظارتونو په پایله کې راټول شوي وو، د اړوندو مسؤلینو په شتون کې له منځه یووړل

د فراه ولایت عامې روغتیا ریاست مسؤلینو ټینگار کوي، چې بازار ته له نېټې تېر او بې کیفیته درملو او خوراکي توکو د عرضې مخنیوي په موخه به له خصوصي روغتیایي مرکزونو او خوراکي توکو له پلورنځیو څخه د څارنې او پلټنې بهیر په دوامداره توگه روان وي



## د عامې روغتیا وزارت له لوري له خارج مرز ډاکټرانو څخه د سویې ازموینه واخیستل شوه

د دې ازموینې د پیل مراسمو کې د عامې روغتیا وزارت د مالي او اداري چارو مرستیال ښاغلي قاري عبدالولي صدیقي، د اکمال تخصص لوی رئیس ډاکټر نثاراحمد نیازي، یو شمېر نورو مرکزي رئیسانو ، استادانو او اړوندو مسؤلینو گډون کړی و
د عامې روغتیا وزارت د مالي او اداري چارو مرستیال د ازموینې گډونوالو ته د بشپړ شفافیت ډاډ ورکړ او ویې ویل، د دې ازموینې څخه موخه ستاسې زده کړو او وخت ته احترام دی، تر څو ستاسې کړې زده کړې د لا پرمختگ او خدمت ذریعه وگرځي
همدارنگه ښاغلي مرستیال وویل د عامې روغتیا وزارت حق حقدار ته د سپارلو په موخه د ازاد رقابت له لارې ازموینې اخلي؛ څو هر څوک د خپل زیار پایلې ترلاسه کړي
د اکمال تخصص لوی رئیس ښاغلي ډاکټر نثار احمد نیازي د خپلې وینا په ترځ کې گډونوالو ته د شفافیت ډاډ ورکړ او د ازموینې اړوند یې لازم معلومات شریک کړل
یاده ازموینه په 14 څانگو کې له هغو ډاکټرانو څخه واخیستل شوه، چې له هېواده بهر یې دوه کلنې زده کړې ترسره کړې وې




## یک دستگاه اکسری برای شفاخانه ولایتی غور خریداری شد

با همکاری برنامه ملی ،(UNDP) این دستگاه از سوی برنامه توسعه‌ای سازمان ملل متحد مبارزه با توبرکلوز، به ارزش 72 هزار دالر امریکایی خریداری شده است و قرار است از آن در بخش تصویربرداری و تشخیص بیماری‌ها برای بیماران در شفاخانه ولایتی غوراستفاده صورت گیرد

## X-Ray Machine Purchased for Ghor Provincial Hospital

The X-ray machine was procured by the United Nations Development Programme (UNDP), in collaboration with the National Tuberculosis Control Program, at a cost of USD 72,000. It will be used for medical imaging and diagnostic services for patients at Ghor Provincial Hospital.

## د بلخ ولایت په دهدادي ولسوالی کې شیرآباد روغتیایي مرکز ته د 111 زره امریکایي ډالرو په ارزښت 57 قلمه طبي تجهیزات وسپارل شول



د عامې روغتیا وزارت په هڅو او د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ (UNHCR)په مالي ملاتړ، د بلخ ولایت په دهدادي ولسوالی کې د شیرآباد روغتیایي مرکز ته د 111 زره امریکایي ډالرو په ارزښت 57 قلمه طبي تجهیزات وسپارل شول

یاد تجهیزات د عامې روغتیا وزارت د پلان ګذارۍ او برنامه ریزۍ رئیس، ډاکټر عبدالستار صحت په مشرۍ د یوه تخنیکي پلاوي له لوري، د UNHCR اداري د استازو په شتون کې، ذکر شوي روغتیایي مرکز ته وسپارل شول

## ظرفیت شفاخانه تداوی معتادین ولایت غور از 20 بستر به 40 بستر ارتقا یافت



ظرفیت شفاخانه تداوی معتادین ولایت غور در مراسمی با حضور رئیس صحت‌عامه این ولایت، نماینده مقام ولایت، شماری از مسوولان ادارات امارتی و مؤسسات همکار در بخش صحت، از 20 به 40 بستر ارتقا یافت

مسوولان ریاست صحت‌عامه غور، ارتقای ظرفیت این شفاخانه را گام مهمی در راستای تقویت خدمات صحی، افزایش ظرفیت پذیرش و فراهم‌سازی زمینه دسترسی بیشتر افراد مبتلا به اعتیاد به خدمات تداوی عنوان نمودند

همچنان در این مراسم، بر ارائه خدمات مؤثر و مسلکی به مراجعین و همکاری مشترک ادارات در راستای رسیده‌گی به مشکلات صحی و اجتماعی ناشی از اعتیاد تأکید شد

## Construction of 200-Bed Kunar Provincial Hospital Progressing Rapidly



Construction work on the 200-bed Kunar Provincial Hospital is progressing rapidly in accordance with the approved plan. Upon completion, the project will improve the hospital's working environment and enhance facilities for the provision of healthcare services to patients.

As part of the construction project, necessary measures are being undertaken to standardize various sections of the hospital and improve the conditions for delivering healthcare services. This will enable healthcare workers to perform their professional duties in a suitable environment and provide the necessary services to patients and visitors. Upon completion, the project will strengthen the hospital's capacity to meet the healthcare needs of the people of Kunar and provide significant improvements in the delivery of quality healthcare services.

## امضای قرارداد 103 هزار دالری برای ارائه خدمات صحی در بغلان و کندهار




وزارت صحت عامه به‌منظور کاهش میزان مرگ‌ومیر مادران و اطفال و ارائه خدمات صحی روانی در مناطق تحت پوشش در ولایت‌های بغلان و کندهار، با ORCD مؤسسه به ارزش 103 هزار و 16.39 دالر امریکایی، قرارداد همکاری امضا کرد
این قرارداد به‌منظور ارتقای کیفیت خدمات صحی، افزایش دسترسی به خدمات صحی و کاهش مشکلات صحی مردم، برای مدت یک سال به امضا رسیده است که بر اساس آن، 44 هزار و 50 تن از باشنده‌گان این مناطق از طریق پنج تیم سیار صحی از خدمات صحی بهره‌مند خواهند شد و برای 90 تن نیز در بخش صحی زمینه کار فراهم خواهد شد

از سوی‌هم، نماینده‌گان مؤسسه ORCD نیز اطمینان دادند که این پروژه را در جریان یک سال مطابق با تمام معیارهای تعیین‌شده تطبیق کرده و برای تأمین نیازهای صحی مردم توجه ویژه خواهند کرد

## د تخار په ولایتي روغتون کې د جدي پاملرنې 10 بستریزه څانګه پرانیستل شوه



د تخار په ولایتي او تخصصي روغتون کې د جدي پاملرنو (ICU) لس بستریزه څانګه د عامې روغتیا وزارت له داخلي بودجې څخه د 32 میلیونه افغانیو په لګښت جوړه او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه
د دغې څانګې د پرانیستې په مراسمو کې د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني، د تخار والي مولوي سمیع الله حزب الله، د دغه ولایت د عامې روغتیا رئیس مولوي شیخ میر صدام، د عامې روغتیا وزارت اکمال تخصص لوی رئیس ډاکټر نثار احمد نیازي او یو شمېر روغتیایي مسؤلینو او کارکوونکو ګډون کړی و

د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال د دغې څانګې فعالېدل په تخار کې د روغتیایي خدمتونو د پیاوړتیا په برخه کې مهم ګام وباله او ویې ویل: دغه وزارت هڅه کوي چې تخصصي او معیاري روغتیایي خدمتونه د هېواد سیمو کې پر وخت اړین روغتیایي خدمتونو ته لاسرسی ولري

## Meeting Held to Strengthen Internal Coordination and Discuss Activities of the Directorate General of Disease Control and Prevention



The meeting was attended by Dr. Ahmad Siyar Pasoon, Director General of the Ministry of Public Health's General Directorate of Disease Control and Prevention, along with relevant directors and department heads. The participants discussed ways to strengthen effective coordination among officials, ensure adherence to the chain of command, facilitate the proper and timely implementation of assigned tasks, and review the Directorate's activities.
Dr. Ahmad Siyar Pasoon emphasized the importance of commitment, dedication, and diligence, and instructed the relevant officials to ensure the proper and timely performance of their duties.